مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۲/۱۸

# غزل

زه د دې دنګو، هسکو غرو بچی یم
زه د دې ښکلو سر درو بچی یم

رباب، سیتار لرم، شپیلۍ لرمه
زه د سپېڅلو ولولو بچی یم

برخلیکه! ما پورې خندا مه کوه
تا به بدل کړم د پښتو بچی یم

زما رګونو کښې مستي بهېږي
د اباسین مستو څپو بچی یم

یه پسرلیه د لښکر تر څنګه
زه د اوچتو ارادو بچی یم

مصطفی پسرلی
16/02/201


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ